AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

## رسنۍ په اونۍ کې/ د نومبر څلورمه اونۍ

تیره اونۍ په لغمان ولایت کې د هیلي په نامه یوې راډیو خپل فعالیتونه د اقتصادي ستونزو له امله ودرول.

د خبریالانو د وهلو ټکولو او ورسره د ناسم چلند او تاوتریخوالي پیښې په پرله پسې ډول دوام لري. حکومت که څه هم ددغه وضعیت د ښه کولو وعدې کړي خو له بدمرغه چې لاهم دغه شان پیښې تکرارېږي.

د آیینې ټلویزیون یو ویاند بصیر احمدي د نوامبر میاشتې په ۱۹مه نېټه د کابل په مکرویانو کې د خپل کور مخې ته د دوو وسله والو له لوري لومړی وهل شوی او وروسته ډزې پرې شوې. نوموړی په غاړه او خوله کې ژو ټپونه لري.

همدارنګه، پرته له حکومت څخه، خبریالانو ته د نورو لخوا هم ګواښونه رامنځته شوي دي:

تیره اونۍ ګل احمد الماس په غور کې فري لانس خبریال د خپل یوه رپوټ له امله چې د یوې کورنۍ د ښوزلې په اړه یې جوړکړی و، ددې کورنۍ د غړو د اخطارونو له امله اړکړل شو چې خپل ولایت پرېږدي او ووځي.

صابر فهیم د نی اداري پخوانی کارکونکی د نوامبر میاشتې په ۱۳مه نېټه په کابل کې د یوې چاودنې په ترڅ کې ټپي شوی. چاودنه په بس موټر کې د ځای پر ځای شوي ماین له امله رامنځته شوه.

له دې سره د تیرې اونۍ تر ټولو مهمه او د بحث وړ موضوع دا وه چې د ا.ا.ا د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت رسنیو ته یو لارښود خپور کړ چې رسنیو ته پکې د خپرونو په تړاو په اتو مادو کې محدودونکي موارد ځای کړل شوي وو. خو په پراخه توګه ددغه لارښود پر وړاندې نیوکې وشوې، د امارت ویاندویانو هم په خپل غبرګون کې وویل چې دغه موارد یوازې د غوښتنې په حد کې دي او الزامي نه دي.

## د ختیځ زون

ختیځ زون کې د تېر جمهوري نظام له سقوط څخه تر اوسه شپږ راډیوګانو د اقتصادي ستونزو او رسنیز سانسور له امله نشرات بند کړي چې له امله یې ۶۰ تنه نارینه او ۸ ښځینه ژورنالېستانو دندې له لاسه ورکړې دي.
سربېره پر دې لسګونه نور خبریالانو هم په ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان کې چې له ملي او نړیوالو رسنیو سره یې کار کاوه دندې له لاسه ورکړې دي.
**لغمان:** تیره اوونۍ د نومبر په ۲۲مه لغمان ولایت کې د هیلي په نوم یوې سیمه ییزې راډیو خپل نشرات بند کړل.
د دغې راډیو مسوولین وایي، اقتصادي ستونزې او ترڅنګ یې ورځ تر بلې پر رسنیو د سانسور زیاتوالی د دې لامل شو چې د راډیو نشرات بند کړي. دوی وایي چې پخوا یې همکاران ډیر وو نو زیاتره به یې سیاسي خپروني تولیدولې او خپرولې، د اقتصادي ستونزو له کبله د همکارانو کمی راغی او دې سره دوی مجبور وو چې د نشراتو ډیر وخت په سندرو ډک کړي، اوس یې سندرې  وربانديِ بندې کړې نو مجبور شول خپل نشرات بند کړي. په دغه راډیو کې د دوو ښځینه وو په ګډون ۱۶ کسانو کارکاوه.
په ورته وخت کې لغمان کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ولایتي همکار د نومبر په ۱۷مه د ولایت مقام په اداري مجلس کې د خبریالانو د ستونزو شریکولو په موخه ګډون وکړ.
هغه د لغمان والي قاري زین العابدین او نورو اداري مسوولینو ته د کمېټې په تړاو معلومات ورکړل او د خبریالانو پر وړاندې یې د ستونزو د حل غوښتنه وکړه.
**کنړ:** کنړ کې خبریال قذافي مل ددغه ولایت د والي له لوري په دې خاطر ګواښل شوی چې په خپل رپوټ کې یې ویلي و چې په دې وروستیو کې کنړ ولایت کې غلاوې زیاتې شوې دي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د همکار په له هڅو وروسته د والي دفتر ومنله چې دغه مسله به په یوې ناسته کې څیړي او بحث به وربانديِ کیږي.

## شمال ختیځ

**کندز:** په کندز ولایت کې خبریالان او رسنۍ د امربالمعروف و نهي عن المنکر د وزارت له لوري د اته ماده ییز لارښود په اړه چې په دې وروستیو کې یې خپور کړ سخت اندیښمن دي. له بل لوري د کندز ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس بیا ددغو مادو په عملي کیدو ټینګار کوي.

له دې سره د کندز ولایت یوشمیر خبریالان بیا ددغو ځرګندونو په اړه د اندیښنې په ځرګندولو سره وایي چې، رسنۍ له اقتصادي ستونزو او د کارکونکو د کموالي له ستونزې سره مخ دي او حکومتي مسوولین ددې پرځای چې دغه شان مقررې لارښودونه وضعه کړي باید د رسنیو د نورو ستونزو د اواري او د هغو د پاینښت لپاره کار وکړي.

د اورانوس ټلویزون رییس او د کندز راډیو مسوول هدایت الله زیارمل د کمیټې له استازي سره په مرکه کې وایي چې رسنۍ ګڼې ستونزې لري او د رسنیو د بقا لپاره باید بنسټیز کارونه وشي.

**بدخشان ولایت:** د بدخشان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس بیا د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له همکار سره په مرکه کې ویلي دي چې هیڅ رسنۍ حق نلري د نظام په مخالفت کې خبرونه یا رپوټونه جوړ او خپاره کړي. معزالدین احمدی وایي ښځې کولای شي د ښځمنو لپاره په ځانګړو رسنیو کې کار وکړي او باید ښځې او نارینه په ګډه او مختلطه توګه رسنیو کې کار ونکړي. د احمدي په خبره دغه چاره له شریعت سره په مخالفت کې ده.

د بدخشان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس وایي چې ښځې حق نه لري چې د خبر یا رپوټ جوړولو لپاره بهر ولاړې شي او یوازې باید دننه په ستودیو کې دیني او روزنیزې خپرونې پر مخ یوسي او خبرونه ولولي.

په بدخشان ولایت کې د حکومتي مسوولینو په وینا چې رسنۍ باید ځانونه په بشپړ توګه دیني کړي او خپل رپوټونه او خبرونه د اطلاعاتو او فرهنګ د ریاست له لوري تر سانسور وروسته خپاره کړي.

له دې سره د امر بالمعروف وزارت له لوري د رسنیو په اړه د اته ماده ایز لارښود له خپریدو وروسته، بدخشان ولایت کې هم د رسنیو د مسوولینو اندیښنې لازیاتې شوي او دوی فکر کوي چې رسنۍ یې د اقتصادي ستونزو او د فعالیت د فضا د تنګیدو له امله ښایي لا زیات د تړل کیدو له خطر سره مخ شي. هغوی وایي چې دغو ستونزو ته باید بنسټیزې حل لارې ولټول شي.

## سویل زون

په سویل زون کي معلوماتو ته لاسرسی د تیرو اونیو په شان هماغسې سخت دی او په ټول زون کې امنیتي او ملکي اداري رسنیو سره معلومات نه شریکوي. همدارنګه په دغه زون کې نه د معلوماتو ورکولو معلوم ادرس شته او نه هم په ګڼ شمیر ادارو کي د معلوماتو ورکولو داسې ظرفیت چې معلومات را ټول منسجم او یو لاس کړي او رسنیو ته یې ورکړي، د همدې ستونزې له امله ډیری خبري او مهمې پیښې او مسایل له رسنیز پوښښ څخه پاتي کیږي .

د نوي حکومت له پیله او تر اوسه ټولې رسنۍ په مستقیم او یا هم غیرمستقیم ډول سانسور کیږي او اجازه نه ورکول کیږي چې د کندهار له ولایتي اداري سره له مشورې پرته کوم څه نشر کړي. په لمړیو کې رسنیو ته په رسمي ډول خبر ورکړل شو،چې موسیقي دې نه خپروي او د امارت په وړاندې دې منفي تبلیغات هم نه کوي،چې وروسته یې په اړه غبرګونونه راپورته شول،که څه هم د کندهار ولایتي اداري خپله پریکړه واخستله خو بیا هم رسنۍ او خبریالان په غیرمستقیم ډول سانسور سره مخ دي او د نه ډاډ په فضا کې فعالیت کوي.

تیره اونۍ هم خبریالان له یوشمیر ستونزو او تاوتریخوالو سره مخ وو، خو تر هغې هم لویه ستونزه دا ده چې د هیڅ پیښې عامل نه دی نیول شوی او له خبریالانو سره د تاوتریخوالي قضیې نه دي څیړل شوې.